// افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|

محمد هارون خپل شعشعي

اول نومبر ۲۰۱۱

# د
# علي محمد مُخلِص
# عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۱۹

**۳۷- څلور مذهبه :**

څلور مذهبه ، اصلاً د اسلامي علومو، په تېره بيا اسلامي حقوقو مشهور اصطلاح ده، چي کله کله په عرفاني ادبياتو کي هم کاريږي؛ او مقصد يې د اسلامي سُنت او جماعت څلور فکري او فقهي مکتبونه دي . دلته دغو څلورو حقوقي يا فقهي مکتبو په اړه ډېر لنډ مالومات وړاندي کيږي :

۱ـ حنفي مذهب ، چي په امام ابو حنيفه مشهور، نُعمان بن ثابت ( ۸۰ - ۱۵۰ هـ ق) يې بنسټ ايښئ دئ . په دې فکري او فقهي ښوونځی کي د نبوي حديثو پر سموالي او ناسموالي ډېر زيات ټينګار کيږي؛ او بې علمي او فقهي دلايلو، د هر حديث منلو ته غاړه نه ايښوول کيږي . له دې امله، دا فقهي مکتب تر ډيري اندازې، پر قياس او استحسان ولاړ دئ . حنفي مذهب په افغانستان، مرکزي آسيا، د هند په نيمه وچه او دېخوانۍ عُثماني تورکيې تر واکمنۍ لاندي هيوادو کي، پيروان لري[1] .

۲ـ مالِکي مذهب ، چي په امام مالِک مشهور، ابو عبدالله مالک بن انس ( په ۱۸۲ هـ ق کي مړ ) رامنځ ته کړئ دئ . په دې فکري او فقهي ښوونځی کي د حنفي مذهب پر خلاف، قياس اواستحسان ته ډېره پام، نه کيږي . حقوقي او فکري مسألي د قرآني آيتو، نبوي دودونو او احاديثو په رڼا کي څېړلي کيږي[2] .

۳ـ شافعي مذهب ، چي په امام شافعي مشهور، د ابوعبدالله محمد بن ادريس بن عثمان بن شافع بن السائب القرشي المطلبي (۱۵۰ - ۲۰۳ هـ ق ) له خوا رامنځ ته سوئ دئ؛ او په مصر او سعودي عربستان کي پيروان لري[۳] . په دې فقهي او فکري ښوونځی کي، عرفاني نظريو ډېره وده او پرمختگ کړئ دئ .

۴ـ حنبلي مذهب ، چي په امام حنبل مشهور، د ابو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل ( په ۲۴۱هـ ق کي مړ ) له نامه سره اړه لري . په دې فکري او فقهي مکتب کي له قياس، تأويل او بدعت څخه سخته ډډه کيږي . دا فکري او فقهي لار د عربستان په ګډون، په ځينو عربي هيوادو کي پيروان لري[۴] .

په دواړو رسمي او باطني پوهه سمبال شاعر، علي محمدمخلص، په يوه غزله کي د « قلب المؤمن حرم الله و حرام على حرم الله ان يولج فيه غيرالله » د نبوي حديث له حُکم سره سم، د مؤمن و زړه ته د حق تعالی د حَرَم په سترګه ګوري؛ او هغه څوک په څلور مذهبه ګُرَم بولي، چي د مولا په حَرَم کي اغيارو ته ځای ورکيي(کوي) :

چي د حق په حَرَم غير ننباسي
هغه کس به په څلور مذهبه ګرم شي
زړه حَرَم د مولا ياد دی په حديث کښي
هر عارف چي په حَرَم د حق محرم شي

لمنليکونه

۱ عميد ۲: ۹۶۱.

۲ عميد ۳: ۲۱۴۳.

۳ عميد ۲: ۱۵۲۱ ؛ مهدوی دامغانی « تعليقات و حواشی، » کشف الحقايق ۲۴۵.

۴ عميد ۲: ۹۶۰ .

**۳۸- حِجاب :**

حِجاب ( د « ح » په زېر) په لُغت کي د پردي، پوښ، پوړني/ ټيکري، څادر، برقعې/ بوغري يا بل ورته توکر په مانا دئ، چي مخ په پټيري . په عرفاني ادبياتو کي حِجاب، هغه پرده يا خنډ دئ، چي د طالب او مطلوب تر منځ پيداکيري . اسلامي عارفان باور لري، چي دا ډول پردې يا حِجابونه د طالب په زړه کي د الهي انوارو د ځلېدو؛ او په نتيجه کي د حقيقت موندني مخه نيسي[۱] ؛ څکه نو ټينګار کيي ( کوي)، چي د حقايقو پلټونکی بايد و خپل حقيقي مطلوب ته د رسېدو په مقصد د زړه هينداره له رنګارنګ زنګونو او لکو څخه پاکه کړي . دسالِک پر زړه د الهي انوارو د ځلېدو؛ او حقيقت موندني په وړاندي پردې او حِجابونه د عرفاني سير او سُلوک په بېلابېلو پړاو کي يو په بل پسي له منځه ځي . د اسلامي تصوف او عرفان مخکښ لاربښود - سيد ابوالحسن علي هجويري ( په ۴۶۵ هـ ق کي مړ ) په خپل مشهور اثر (کشف المحجوب ) کي د دوو ډولو حِجابو يا پردو يادونه کيي :

اول ريني حِجاب : د دې حِجاب مانا داده، چې د انسان ذات په خپله، د حق په وړاندې حِجاب دئ . د زنګ یا چټلی دا پرده د دې سَوَب ګرځي، چې انسان د حق او باطل تر منځ توپیر و نه کړای سي . دا حِجاب د کُفر او الحاد حِجاب دئ؛ او تر هغه وخته یې لیري کول ناممکن دي، چې د انسان زړه د ایمان په نور روښانه، نه سي . له لکه څنګه ، چې حق تعالی په خپله په قرآن مجید کې ددې حِجاب یادونه کړې ده . د تطفیف ( مطففن ) د سورې په څورلسم آیت ( ۸۳ :۱۴) کې په دې اړه داسي راغلي دي : « کلا بل ران علی قلوبهم ما کانوا یکسبون » یاني پر زړوباندې یې د خپلو بدو عملو لکې دي . د بقرې د سورې په اووم آیت ( ۲: ۷) کې د دې ډول حِجاب په باب داسي حُکم سوئ دئ : « ختم الله علی قلوبهم و علی سمهم و علی ابصارهم غشاوة » یاني خدای د دوی پر زړو، غوږو او سترګو پرده اچولې ده . د نحل د سورې په یوسلو اتم آیت ( ۱۶: ۱۰۸) کې هم د هغو کسانویادونه سوې ده، چې الله ( ج ) یې پر زړو، غوږو او سترګو مُهر لګولئ دئ .

دوهم غیني حِجاب : هغه حِجاب، چې په زیار او کوښښ سره لیري کېدای سي؛ او هغه په خپله هم پر دوه ډوله دئ : خفیف حِجاب او غلیظ حِجاب .

غلیظ حِجاب د غافلانواو هغو کسانو پر زړو پروت دئ ، چې لویې ګوناوې کیې؛ خوخفیف حِجاب د هر چا پر سترګو او زړو پروت دئ . په دې ډله کې نبي او ولي هم ګډون لري[۲] .

صوفیانو او عارفانو ریني حِجاب له وطن او غیني حِجاب له خطر سره ورته ګڼلئ دئ؛ ځکه وطن یا هیواد همېشنی؛ خو خطر موقتي او نا پایدار دئ .

ریني حِجاب د ډبرې په څېر دئ؛ ځکه ډبره په ذات کې مُکدره ده؛ او په توږلو یا پاکولو هیڅکله جلا نه مومي . د دې پر خلاف،غیني حِجاب د هینداري په شان دئ . لکه څنګه چې پوهېږو د هینداري حقیقت یا اصلیت روښنایي ده؛ له دې امله هینداره یا ښیښه له هر ډول چټلۍ او زنګ سره سره، ډېر ژر د پاکولو په مرسته، بیرته خپله اصلي څلا او شفافیت ترلاسه کیې .

لوی عرفاني متفکر - شېخ عزیزالدین نسفي (۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق ) د انساني کمال او حقیقت په وړاندې دا حِجابونه، دانساني بُتانو په نامه یادیي . دده په اند، انساني بُتان ټوله اووه دي، چې لومړنیيو درو بُتانو( نس، شهوت او اولاد) ته د عوامو بُتانو بُتان وایي . درې وروستي بُتان؛ یاني د ظاهري ښکلا، ما ل ، شأن او شوکت بُتان د خواصو بُتان دي، چې لومړی یې کوچنی بت، دوهم یې لوی بت؛ او دریم یې تر هغه هم لوی یا اکبر بت نومیږي[۳] . شېخ نسفي، دغه راز عقیده لري، چې دا شپږ بُتان ټوله د دونیا ښاخونه دي . د دونیا خوند او لذت تر دې ډېر نه دئ . کله چې وروستي درې ښاخونه ( د خاصو کسانو بُتان) پیاوړي سي، لومړني درې ښاخونه ( دعوامو بُتان) کمزوري ؛ او په پای کې ماتیږي . دده په نظر، تر ټولو لوی او وروستی بت، د نفس بت دئ، چې نور بُتان دده په مرسته پیداکیږي . ګرده بُتان ماتېدای سي؛ خو د نفس بت نه سي ماتېدلای[۴] .

عارفانو، نه یوازې نوس، شیطان، د غافلواو بې خبره کسانو ملګرتیا، مادي دونیا او په هغې کښې نغښتې ښې او ښادی، بلکې عُقبا او ان خپله فاني هستي هم د حقیقت نور ته د رسېدو په لار کې، حِجابونه ګڼلي دي . د دوی په باور، د اسرارو او حقیقتو د لارې ربښیني سالِکان، تر هغه مهاله د خپل واقعي محبوب د دیداراو وصال پر لور ګام نسي پورته کولای، چې له پردو( حِجابو) او عوارضو څخه راونوزي؛ او د حقیقت وړانګې یې پر زړو و نه ځلیږي . دپارسي ژبې لسان الغیب شاعر - حافظ شیرازي ( په ۷۹۱ هـ ق کې مړ ) د ابدي او حقیقي هستی په لار کې د انسان د وجود حِجاب داسي بیان کړئ دئ :

« . . . میان عاشق و معشوق هیچ حایل نیست

توحِجاب خودی حافظ از میـان بر خیزد٥ »

علي محمد مخلص هم په خپله عارفانه شاعرئ کي حِجاب او د هغه ډولونه، په خورا ژوره توګه بیان کړي دي، چي ځیني مثالونه او بولګي یې دلته وړاندي کیږي . د هغه په یوه غزله کي داسي لولو:

بد غولان د لاري نوس، شیطان دنیا ده

له مانعو، عوارضو خــبردار ځم

څلور عوارض غول خلق یــاد شوي

له ناجنسو غافلانو پر کنـار ځم

دا نَفَس ګورم ثابته لار و حق ته

پردا لاري پاک دیدار ته په تلوار ځم

په دوو نورو غزلو کي، د اسلامي نصوصو په استناد، د دونیا او آخرت مینه، د عارف د بې بدله میني په لار کي حِجابونه ګڼي؛ او سالِک ته له هغو څخه د ژغورني خبرداری ورکیي :

دواړه کونـه لویـه لومه ده په لار کښي

د شیطان له دامه هــر زمان په ډار ځــه !

ددُنیا په لــومه نښتی دُنیادوست دئ

د عقبی په دام ګــرفتار زاهــد بیدار ځــه !

***

ددنیا، د آخرت مینه حِجاب دئ

ددووکونو حُـــب پر زړه مه کړه مُقیمه

تعلق حِجاب یاد شوئ په . . . کښي٦

محبت له هیچا مه کړه بې رحیمـه

مخلص، په یوه بله غزله کي دانسان ځان او وجود په خپله د حقیقي هستئ د وصال په لار کي تر ټولو لوی حِجاب بولي؛ او داسي یې تعریفیي :

و عارفو ته ځرګند پــه هــر جهت یــې !

له غافله په حِجاب نــظر یې نشته

لوی حِجاب د سړي ځـان په لار کـي ورکړه !

بدحِجاب ګــوره وجود همسر یې نشـته

لوی خطر حِجاب هستي ګڼه په لار کي

چي وجود یې کړ نفي خطــر یې نشــتـه

چي له خپلي هستئ نیست په مولا هست شي

د مولاهستي باقي ګــڼر یــې نشتـه

مخلص، په خپل تاریخي او عرفاني اثر ( حالنامه ) کي د حضرت ابراهیم ( ع ) د توحید او ناپایه الهي میني هغه کیسه راوړې ده، چي د حِجاب عرفاني مفهوم په خورا ژورتیا او دقت سره بیانیي . په دې عرفاني کیسه کي راغلي دي، چي عزارائیل ( ع ) د اروا اخیستلو دپاره، حضرت ابراهیم ( ع ) ته ورغئ . سلام یې وکړ . ابراهیم خلیل الله جواب ورکړ : د زیارت دپاره راغلئ یې که د اروا اخیستلو دپاره ؟

عزراييل ( ع ) ورته وويل : د اروا خيستلو دپاره . خليل الله ورته وويل : الله تعالی دا اروا ماته په خپله راکړي ده؛ او زه يي هم په خپله ده ته ورکوم . ته څوک يې، چي زما او يار تر منځ پرده يې؟! هغه ورځ چي نمرود د منجنيق په مرسته په اور کي اچولم، لا په هوا کي وم، چي جبراييل راغئ؛ او ويې ويل : که غواړې، چي مرسته در سره وکړم؛ او له دې خطرناک حالت څخه دي وژغورم ؟ ما هيڅ پام ورته ونه کړ . ورته ومي ويل : ايسته سه؛ زما او يار تر منځ پرده مه جوړوه . اوس ته راغلئ يې؛ زما او يار ترمنځ دي پرده جوړه کړه! ولاړ سه . يار ته مي ووايه، چي اروا دي راکړې ده، خپله يې واخله؛ بيا يې وګوره، چي څنګه يې ورکوم . عزراييل ( ع ) ددې جواب په اورېدو سره رخصت واخيستئ؛ او د رب العزت حضور ته ولاړ . له عزراييل ( ع ) څخه پوښتنه وسوه، چي څه دي وکړه؟ ويې ويل : اې باداره ! تاته ، هغه څه په بشپړه توګه څرګنددي، چي خليل الله راته وويل . حق تعالی وويل : اې عزراييله ! ماته مالومه وه، چي زما خليل به تا ته خپله اروادر نه کړي! وروسته حق تعالی په خپله خطاب وکړ : اې خليله ! راسه چي نور د وصال وخت را رسېدلئ دئ . کله چي خليل الله دا ږغ د زړه په غوږو واورېدئ، نو يي د اروا مرغه د وصال په مينه د وجود له قفسه والوتئ؛ او د يار وصال ته ورسېد[7]. په ډول ګورو، چي د عرفاني پتنګانو له نظره د محبوب په وړاندي خنډ او پرده، د دوږخ تر عذاب هم سخته ده .

**د نور مالومات دپاره وګورئ : نفس، روح ، دونيا،عقبا اوموﻻ .**

لمنليکونه

۱ هجويری ۷۹- ۸۰ .

۲ هجويری ۷۱۶ .

۳ نسفی، انسان الکامل۵۳.

۴ نسفی، انسان الکامل ۵۴ .

۵ حافظ شيرازی ۱۹۶ .

۶ په خطي نسخه کي د دې ميسرې اصلي بڼه داسي ده : « تعلق حِجاب ياد شوی » . ښايي په تش ځای کي به داسي يا دې ته ورته ټکي وه : « په عالَم کښي » يا « په دونيا کښي» . الله ښه پوهېږي . د د يوان په سم سوي متن کي مو د اصالت ساتني پر بنسټ، پر خپل حال پر اينبی دئ .

۷ مخلص، حالنامهء بايزيد روښان ۳۹۵ - ۳۹۶ .

---

۱خواجه شمس الدين محمدحافظ شيرازي ، ديوان ، به کوشش محمد بهشتی ( تهران: انتشارات پيري،۱۳۷۰ ) ۱۹۶.